# د یوې ټولنې غړي شئ!

**په سویډن کې ټولنیز ژوند ډېر پراخه، متنوع او فعال دی**

د دې لامل څه دی؟ څه شی سبب ګرځي چې انسانان خپل ځانونه وقف کوي او په ټولنو کې عضویت اختیاروي؟ یو ټولنه یا انجمن څرنګه پر مخ بیول کېږي؟ په دې مالوماتي کتابچه کې دا ډول پوښتنو ته ځواب وړاندې شوی دی

**ټولنیز فعالیتونه ـ یو غوره د جرګو او مرکو ځای**

ټولنیز فعالیتونه د هر چا پر مخ پرانیستي وي. دا په دې مانا ده چې ټول انسانان حق لري چې په یوه ټولنه کې غړیتوب ولري. او د دې لارې تاسو
یو داسې مقصد ته د رسېدو لپاره چې ستاسو په اند مهم، په زړه پورې او دلچسپه وي، هلې ځلې کوئ. تاسو ګڼ شمېر نورو کسانو سره آشنا کېږئ چې
ستاسو په څېر دلچسپي او لیوالتیا لري.

**ټولنیز فعالیتونه غیرانتفاعي دي**

د دې مانا دا ده چې که لویان دي او که کوچنیان ټول فعال غړي په خپل اوزګار وخت کې پرته د کوم مالي عوض څخه د ټولنې لپاره خدمت کوي، چې دا ډول خدمت په بل عبارت غیرانتفاعي کار بلل کېږي.



**مېندې پلرونه په ټولنه کې مهم رول لوبوي**

د دې لپاره چې د ځوانانو او کوچنیانو د ګټو لپاره هلې ځلې کوونکې یو فعالیت ژوندی پاتې شي باید مېندې پلرونه کله کله وخت وباسي او د ټولنې سره مرسته وکړي. دا مرسته کېدای شي کله کله خلک خپل موټر کې د هاکي یوې لوبې یا د لمبا ټورنامنټ ته د رسولو او یا په ځنګل کې د کوچنیانو په چکر کې ونډه اخیستلو په شکل کې وي. دا ډول ګامونه د یوې داسې ټولنې لپاره اړینې مرستې شمېرل کېږي چې غړي یې په اوزګار وخت کې داوطلبانه خدمت کوي.

**تشویقوونکي لاربنودان او روزونکي**

که آس زغلول وي، د شطرنج لوبه وي او یا د کمپنګ فعالیت، د هر ډول فعالیت شا ته تل یو لاربنود یا روزونکی موجود وي چې ځوان فعالان
حمایه او تشویق کوي. دوی خپل وخت وقف کوي او د مسؤولیت څخه ډکه د مشرۍ دنده پر غاړه اخلي. د دې نه علاوه دوی د ځوانانو لپاره یوه غوره نمونه هم وي. معلومداره خبره ده چې روزونکي او لاربنودان زموږ په ټولنو کې یو مرکزي رول لوبوي.

**ټولنه د خپلو غړو په مټو ژوندۍ وي**

د غړو لیوالتیا او هلې ځلې د ټولنې د زړه مثال لري. د اقتصاد په برخه کې د ګډون کوونکو فیسونه او کلنۍ حق العضویت ډېر مهم رول لوبوي. دا د ټولنې د اقتصاد د ملا د تیر حیثیت لري. ځینې وختونه کېدای شي ټولنې د کمون او نورو ادارو څخه مالي بسپنه هم ترلاسه کړي. مالي بسپنه د دفتر او نورو ځایونو د کرایې او د وسایلو د اخیستلو لپاره په کار وي.



**غړي واک لري او پرېکړو کې برخه اخلي**

غیر انتفاعي ټولنې د ولسواکۍ په بنسټونو باندې ولاړې وي. د دې مانا دا ده چې تاسو د غړي په حیث کولای شئ چې د فعالیتونو په اړه بحث او پرېکړو کې ونډه واخلئ. په کال کې یو ځل ټولنه کلنۍ غونډه دایروي چې په دې کې غړي د ټولنې د فعالیت او اقتصاد په اړه
پرېکړې کوي او سربېره پر دې د ټولنې د شورا غړي هم ټاکل کېږي. د شورۍ غړي بیا تر بلې کلنۍ غونډې پورې د ټولنې
د هر ورځنۍ چارو مسؤولیت پر غاړه اخلي. شورا ډاډ ترلاسه کوي چې ټولنه د خپلو اصولو پیروي وکړي. اصول د ټولنې د فعالیت لیکل شوي مقرراتو ته وایي او سرې وییلی شي چې دا د ټولنې قانون دی.

**په سویډن کې ګڼ شمېر ټولنې وجود لري**

په سویدن کې یو شمېر ټولنې د سلو کالو څخه مخکې جوړې شوې دي او نورې په نږدې وختونو کې منځته راغلې دي. د بدني روزنې په برخه کې ترټولو ډېرې ټولنې شتون لري او تقریباً په هر ډول سپورټونو کې فعالیتونه مخ پر وړاندې بیایي. همدا راز ګڼ شمېر کلتوري ټولنې هم شته دی چې د تیاتر، موسیقۍ او نڅا په برخه کې فعالیت لري. د دې نه علاوه د بېلګې په توګه مذهبي او په طبیعي سیمو کې د چکر وهلو ټولنې او همدا راز داسې ټولنې چې د بشر د حقوقو، د کوچنیانو د حقوقو لپاره او د چاپیریال په مسائلو کې هلې ځلې کوي.